هدية
HADIYAH



# - د سفر آداب -
# او حكمونه

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

**أما بعد:**

**دا د سفر د آدابو او احکامو په اړه یو لنډ پیغام دی چې هڅه مو کړې ډیری هغه مسائل بیان کړو چې مسافر ورته اړتیا لري.**

موږ له الله جل جلاله څخه سوال کوو چې خاص د خپلې رضا لپاره یې وګرځوي او عامو مسلمانانو ته پرې ګټه ورسوي.

په ژبو کې د اسلامي محتوا د خدماتو ټولنه

# د سفر آداب
# او حکمونه



# لومړۍ: د سفر آداب

هر څوک چې د حج یا نورو عبادتونو لپاره سفر کوي، باید لاندې چارو ته پاملرنه وکړي:

١

**د وخت، سپرلۍ، ملګرۍ، او د ډېرو لارو د شتون په صورت کې د مناسبې لارې د ټاکلو لپاره له الله تعالی څخه لارښوونه غواړي او استخاره کوي او پدې اړه د نېکو خلکو او تجربه لرونکو سره مشوره کوي، او شک نشته چې حج او عمره کې خېر دی،**

د استخارې طریقه دا ده چې دوه رکعته لمونځ وکړي او بیا په هغو الفاظو سره دعا وکړي چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت شوي دي



## ٢

**په حج او عمره کوونکي واجب دي چې قصد يې د الله تعالی رضا او هغه ته ځان نږدې کول وي، او بايد چې له دنيوي ګټو،**
وياړ، لقبونو ترلاسه کولو، يا ځان ښودنې او شهرت غوښتنې څخه ځان وساتي، ځکه دا د عمل د بربادېدو او نه قبليدو لامل ګرځي،

### الله تعالی فرمايلي:

قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَن كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا

ژباړه: (ووايه پرته له شکه زه ستاسو غوندې يو بشر يم وحي راته کيږي، ستاسو معبود يو الله دی، څوک چې له خپل پالونکي سره د مخامخ کېدلو اميد لري؛ نو ښه کار دې وکړي او د خپل پالونکي په عبادت کې دې هيڅوک هم نه شريکوي)

### او په قدسي حديث کې راځي:

> ژباړه: (زه له شرک نه تر ټولو ډېر بې حاجته شريکوال يم، نو څوک چې يو عمل وکړي، په هغه کې بل څوک زما سره شريک کړي؛ زه به هغه کس او د هغه شرک پرېږدم).



هدية
HADIYAH

٣

**حج او عمره کوونکی باید لـه سفر نـه مخکې د عمرې او حج پـه احکامو ځان پوه کړي، او مخکې لـه دې چې سفر وکړي باید حکمونـه یې زده کړي**
تـر څو تـرې کـوم واجب پاتـې نـه شـي یـا حـرام ونـه کړي، رسـول الله صلـی الله علیـه وسلم فرمایلي

ژبـاړه: (چـا تـه چـې الله تعالـی د خیـر اراده وکړي، هغـه تـه پـه دین کـې پوهـه ورکوي).

٤

**حج او یـا عمـره کوونکـی باید د حـج او عمـرې لپـاره حلالـې پیسـې غـوره کـړي.**
ځکـه چـې الله تعالـی پـاک دی او یـوازې هغـه څـه منـي چـې پـاک وي؛ ځکـه چـې حرامـې پیسـې د دعـا د نـه قبلېدو لامـل دی.

٥

**باید لـه ټولو ګناهونو او سرغړونو توبه وباسـي،**
او کـه د خلکـو حقونـه ورسـره وي بېرتـه یـې وروګرځـوي، هغـه کـه جنس وي یا مـال او یا بل څـه.

٦

**مسـافر تـه مستحب دي د هغـه څـه پـه اړه وصیت ولیکـي چـې څـه یـې د چا سره دي یـا د چـا څـه ورسـره دي،**
رسـول الله صلـی الله علیـه وسـلم فرمایلـي:

ژبـاړه: (مسلمان تـه نـه ښـایي چې د وصیـت کولو لپاره یو څه ورسـره وي، او دوه شپې لـه وصیت لیکلو پرتـه تیرې کړي).

او يو څوک دې پر ګواه کړي، پوروونه دې خلاص کړي، امانتونه دې خپلو خاوندانو ته وسپاري يا دې له خاوندانو اجازه واخلي چې ورسره پاتې شي.

٧

**د مسافر لپاره مستحب دي چې د يو ښه ملګري د غوره کولو هڅه وکړي، او داسې يو څوک د ملګرتيا لپاره وټاکي چې د شرعي زده کړو زده کوونکی وي؛**

دليل يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا قول دی چې فرمايي:

ژباړه: (يو سړی د خپل ملګري د دين پيروي کوي، نو په تاسو کې دې څوک وګوري چې له چا سره خالصه ملګرتيا کوي)

**او د هغه -صلى الله عليه وسلم- دا وينا:**

ژباړه: (يوازې د مؤمن ملګرتيا کوه، او ستا خواړه دې يوازې مؤمن وخوري).







## د مسافر لپاره مستحب دي چې د خپلې کورنۍ، خپلوانو، ګاونډیانو او ملګرو سره مخه ښه وکړي،

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«ژباړه: (څوک چې د سفر اراده ولري، هغه دې خپلو شاته پاتې کسانو ته ووايي: پر هغه الله دې سپارم چې ورسپارل شوي امانتونه ورسره نه ضایع کیږي)»

او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرو کې به چې چا سفر کاوه په مخه ښې کې به یې ورته ویل:

ژباړه: (زه ستا دین، امانت او د کار پایله الله ته سپارم)،

او هغه صلی الله علیه وسلم به هغو مسافرو ته چې له هغه څخه به یې د وصیت غوښتنه کوله ویل:

ژباړه: (الله تعالی دې تقوا درکړي، ستا ګناهونه دې وبخښي، او ستاسو لپاره دې نېکي اسانه کړي په هر ځای کې چې یاست).

او یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی چې د سفر اراده یې درلوده، ورته یې وویل: ای د الله رسوله! وصیت راته وکړه، هغه ورته وویل

ژباړه: (د الله تعالی په تقوا درته سپارښتنه کوم، او په لوړ ځای د پورته کېدلو پر مهال د تکبیر ویلو)،

کله چې ولاړ ویې ویل:


( ای الله! ځمکه ورته راغونډه کړې (سفر یې لنډ کړې) او سفر ورته اسانه کړې).

## ٩

**په سفر کې به له ځان سره زنګ (ګونګرو)، د موسیقۍ الآت او سپی نه وړي؛**

دلیل یې د ابو هریره رضی الله عنه حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

ژباړه: (ملایکې د هغې ډلې ملګرتیا نه کوي چې سپی یا زنګ پکې وي).



هدية
HADIYAH

١٠

که له یوې ښځې زیاتې یې درلودې او غوښتل یې چې یوه یې له ځان سره په سفر کې ملګرې کړي، نو تر منځه دې قرعه واچوي، د هرې یوې قرعه چې راووته همغه دې له ځان سره بوځي؛

دلیل یې د عائشې رضي الله عنها حدیث دی چې فرمایي

ژباړه: (کله چې به رسول الله صلى الله علیه وسلم غوښتل سفر وکړي، نو د خپلو میرمنو ترمنځ به یې قرعه واچوله، نو د هر چا قرعه به چې راووته، هغه به یې له ځانه سره وړله).

١١

که چیرته امکان ولري، د پنجشنبې په ورځ دې د ورځې په پیل کې سفر پیل کړي

دلیل یې د رسول الله صلى الله علیه وسلم عمل دی. کعب بن مالک رضی الله عنه وایي:

ژباړه: (رسول الله صلى الله علیه وسلم به ډېر کم د پنجشنبې له ورځې پرته په سفر ووت).

## ١٢

## ورته مستحب دي چې د سفر پر مهال له كور څخه د وتلو دعا او نورې دعاګانې وكړي، نو د وتلو پر مهال دې ووايي

بسم الله توكلت على الله ولا حول ولا قوة إلا بالله اللّهم إنى أعوذ بك أن أضِلَّ أو أُضَلَّ أو أزلَّ أو أُزَلَّ أو أظلِمَ أو أُظلَمَ أو أجهلَ أو يُجهلَ عليَّ

(د الله په نوم، زه په الله توكل كوم، ځواک او قوت نشته مګر په الله، الهی! زه تا ته پناه وړم كه زه بې لارې شم، يا مې بل څوک بې لارې كړي، يا ښوک وښويوم، او يا زه وښويولى شم، يا ظلم وكړم، او يا ظلم را سره وشي، او يا چې زه د جهالت كار وكړم او يا زما سره د جهالت كار وشي).

## ١٣

## ورته مستحب دي چې په

خپل ځاروي، موټر، الوتكې يا د ترانسپورټ په نورو وسيلو كې د سفر كولو لپاره د سفر دعا ووايي

اللّه أكبر اللّه أكبر اللّه أكبر سُبْحانَ الَّذِى سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ اللّهمّ إنا نسألك فى سفرنا هذا البر والتقوى ومن العمل ما ترضى اللّهمّ هوّن علينا سفرنا هذا واطوعنا بعده اللّهمّ أنت الصاحب فى السفر والخليفة فى الأهل اللّهمّ إنى أعوذ بك من وعثاء[١] السفر وكآبة المنظر[٢] وسوء المنقلب[٣] فى المال والأهل

(الله لوى دى، الله لوى دى ، الله لوى دى، پاكې ده هغه ذات لره چې زمونږ لپاره يې دا (سورلى) تابع كړې ده او مونږ د هغه مهارولو ونكي نه يو. او بېشكه مونږ خاص خپل رب ته خامخا بېرته ورتلونكي يو، يا الله په دې سفر كې ستا نه د نېكيو او تقوا غوښتنه كوو او هغه عمل چې ستا خوښ وي، يا الله مونږ ته دغه سفر آسانه كړې، او د دې سفر اوږد والى له مونږ څخه لرې كړې، اې الله ته په سفر كې ملګرى يې او په كور كې سرپرست يې، اې الله زه تا ته پناه وړم د سفر له سختيو، له زړه بوګنوونكي منظر او كور ته د ستنيدو پر مهال له ناوړه پېښې څخه په مال او اولاد كې ..).

(١) ووعثاء السفر: يعنې د سفر سختې. الإفصاح عن معاني الصحاح (٤/ ٢٨٤).

(٢) كآبة المنظر: د خفګان له امله ناوړه منظر او ماتوالى. الإفصاح عن معاني الصحاح (٤/ ٢٨٤).

(٣) كآبة المنظر: د خفګان له امله ناوړه منظر او ماتوالى. الإفصاح عن معاني الصحاح .

هدية
HADIYAH



## ١٤ دا ورته مستحب دي چې ځانته سفر ونه کړي

دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا ده:

ژباړه: (که خلک د یوازې والي په اړه په هغه څه پوهیدی چې زه پرې پوهیږم، نو هېڅکله به څوک د شپې لخوا یوازې په سپرلی نه و سپور شوی).

هدية
HADIYAH

۱٥

د دې لپاره چې د مسافرو يووالی او اتفاق وساتل شي او په ځواکمنتيا سره خپلې موخې تر لاسه کړي نو په خپلو کې دې يو تن پر ځان آمر وټاکي،

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

ژباړه: (کله چې په سفر باندې درې نفر وځي، نو يو دې پکې مشر وګماري).



هدية
HADIYAH

## ١٦ باید د هغو اطاعتونو ترسره کولو ته لیواله وي چې الله تعالی پرې امر کړی، او له حرامو څخه ځان وساتي، ځان په ښو اخلاقو سمبال کړي، له هغو کسانو سره مرسته وکړي چې همکارۍ او مرستې ته اړتیا لري،

او هغه خلک پوه کړي چې زده کړې ته اړتیا لري، په خپلو پیسو کې سخاوت وکړي، او هغه په خپلو ګټو او د خپلو ورونو په ګټو او اړتیاوو پوره کولو کې مصرف کړي.

## ١٧ په کار ده چې په خلاص لاس لګښتونه او د سفر اړتیاوې

ځکه کېدی شي اړمن شي او چارې بدلې شي.



## ١٨ په کار ده چې پدې ټولو چارو کې تندی پراخه وساتي

د خوښۍ اظهار وکړي، او هڅه وکړي چې د ملګرو په زړونو کې خوښي ورددننه کړي؛ تر څو خلکو کې ځای او محبوبیت پیدا کړي.

هدية
HADIYAH

**١٩**

**هغه باید د خپلو ملګرو پر جفا او د نظر سره یې د هغوی پر مخالفت صبر وکړي او په نرمۍ ورسره چلند وکړي**

ترڅو یې په منځ کې درناوی وشي او په درنه سترګه ورته وګوري.

**٢٠**

## کله چې مسافر په یو ځای کې استوګن شي، ورته مستحب دي چې سره یو بل ته نږدې نږدې شي،

د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام به چې کله په کوم ځای کې استوګن شول نو په درو او خوړونو کې به سره خواره واره شول نو

**رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:**

ژباړه: (په دې درو او خوړونو کې مو خواره واره کېدل په تاسو کې د شیطان کار دی)،

نو بیا به سره یو بل ته نږدې نږدې کېدل، تر دې چې که یو څادر به دې پرې خپور کړ، تولو ته رسېده.



هدية
HADIYAH

۲۱

**کله چې په سفر او یا بل ځه کې په یو ځای کې استوګن شي، ورته مستحب دي چې د** رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په ثابته دعاګانو سره دعا وغواړي:

ژباړه: (د الله په بشپړو کلمو سره پناه نیسم د هر هغه شي له شر څخه چې هغه پیدا کړی)

کله یې چې دا دعا وویله: هیڅ شی به ورته زیان ونه رسولای شي، تر دې چې له هغه ځایه لاړ شي.

۲۲

**ورته مستحب دي چې په لوړو ځایونو د پورته کېدو پر مهال (الله اکبر) او ټیټو ځایونو او کندو ته د ښکته کېدو پر مهال: (سبحان الله) ووایي،** جابر رضي الله عنه فرمايي:

ژباړه: (موږ به د پورته کېدو پر مهال الله اکبر، او د ښکته کېدو پر مهال سبحان الله ویل)،

او په تکبیر ویلو سره به غږونه نه پورته کوي، **رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:**

**ژباړه: (ای خلکو پر ځانونو نرمي وکړئ، تاسو کوڼ او غائب ته اوازونه نه کوئ، الله له تاسو سره دی او هغه اورېدونکی او نزدې دی).**


۲۳

**ورته مستحب دي چې د شپې لخوا سفر وکړي، په ځانګړې توګه د شپې په پیل کې،** رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي

**ژباړه: (سفرونه مو د شپې وکړئ، ځکه په شپه کې ځمکه راغونډیږي).**

## ٢٤ ورته مستحب دي چې په سفر کې زياتې دعاګانې وکړي،

ورته مستحب دي چې په سفر کې زياتې دعاګانې وکړي،



**ژباړه:**

**(درې دعاګانې له شک پرته قبلیږي: د مظلوم دعا، د مسافر دعا او د پلار خبرا خپلو اولادونو ته).**

# دويم: په سفر کې طهارت

## ١ مسافر ته په کار دي چې پاکوالي ته پاملرنه وکړي

له وړې بې اودسۍ اودس او له جنابت څخه دې غسل وکړي.

## ٢ که اوبه ونه مومي،

یا دومره اوبه ولري چې خوراک او څښاک ته یې بسنه کوي، تیمم دې ووهي.



دواړه لاسونه دې په ځمکه ووهي، مخ او دواړه لاسونه دې پرې مسح کړي.

## ٣ د تیمم طریقه دا ده چې:

## ٤ او د تیمم پاکوالی لندمهاله پاکوالی دی،

هر کله چې اوبه وموندل شي، باید اوبه وکاروي او تیمم یې باطلیږي،

## کله چې د لوی نجاست لپاره تیمم وکړي او بیا اوبه ومومي غسل کول پرې واجب دی،

او که یې له قضای حاجت څخه تیمم وهلی وي او بیا اوبه ومومي، باید اودس وکړي. په حدیث کې راځي

> ژباړه: (پاکه خاوره د مسلمان لپاره پاکوونکې ده، که څه هم لس کاله اوبه ونه مومي، کله یې چې اوبه وموندلې نو د الله څخه دې ووېرېږي او ودې کاروي).

٥ د قرآن، سنت او اهل سنت په اجماع سره **په موزو مسح کول روا دي.**

٦ **په موزو او ورته شیانو د مسحې کولو** شرطونه په لاندې ډول دي:

**أ.** چې موزې یا جرابې جائز او پاکې وي.

**ب.** د پاکوالي په حالت کې یې اغوستې وي.

**ت.** هغه غړی یې پټ کړی وي چې (په اودس کې یې وینځل) فرض دي.



ث.چې مسح په وړې بې اودسۍ کې وي، په جنابت او هغه څه کې مسح روا نده چې له امله يې غسل کيږي.

ج. مسح بايد د شريعت له مخې په ټاکل شوي وخت کې وشي، چې د استوګن (مقيم) لپاره يوه ورځ او شپه او، د مسافر لپاره درې ورځې او شپې ده، ودا موده د صحيح نظر له مخې د بې اودسۍ پسې له لومړۍ مسحې څخه پيليږي، يعنې د مقيم لپاره څلورويشت ساعته او د مسافر لپاره دوه اويا ساعته وخت لري.



هدية
HADIYAH

## ۷ په موزو مسح کول په دريو کارونو سره باطليږي:

۱ داسې يو څه رامنځته شي چې له امله يې غسل واجبيږي لکه جنابت، نو مسح باطليږي او بايد غسل وشي.

۲ له مسحې وروسته يې چې کله وباسي.

۳ کله چې شرعي معتبره نېټه پای ته ورسيږي مسح باطليږي.

* * *



HADIYAH هدية

## درېیم: په سفر کې د لمانځه لنډولو (قصر) احکام:

### ١ په سفر کې د لمانځه لنډول د پوره لمونځ څخه غوره دي

خو که مسافر څلور رکعتي لمونځ پوره وکړ، لمونځ یې صحیح دی، خو د غوره کار خلاف کار یې کړی دی

### ٢ که مسافر د خپل کلي یا ښار له ټولو کورونو څخه ووت

قصر کوي، او دا د جمهورو علماوو نظر دی.



## ٣ او که چیرته یې د لمانځه د وخت له داخلېدو وروسته سفر وکړ نو کولی شي قصر وکړي؛

ځکه چې هغه د لمانځه د وخت له پای ته رسیدو مخکې سفر کړی دی.

## ٤ او د مسافر لپاره د ماسپښین او مازدیګر

ماښام او ماخوستن لمونځونه یو ځای کول سنت دي

کله چې ورته اړتیا وي

کله چې سفر ته ادامه ورکوي، نو د لمونځونو په یو ځای کولو کې به هغه طریقه کاروي چې ده ته پکې اسانتیا وي، یا د تقدیم جمع یا د تأخیر (چې مازدیګر ماسپښین ته رامخکې کړي او یا ماسپښین مازدیګر ته وروسته کړي، همداسې په ماښام او ماخوستن کې).



## ٥ او کـه مسـافر د لمونځونـو يو ځای کولـو تـه اړتيـا نـه درلـوده نـو نـه دي يـو ځـای کـوي

لکـه چـې پـه يـو ځـای کـې اسـتوګن شـي او هغـه مهال تـرې روانيږي چې د دويم لمانځه وخت داخل شي، **نو غوره** دا ده چې يو ځای يې نه کړي؛ ځکه چې اړتيا ورته نه لري، لدې امله **رسول الله صلى الله عليه وسلم** پـه حجـة الـوداع کـې پـه منـا کـې لمونځونـه سره يـو ځـای نـه کـړل؛ ځکـه چـې اړتيـا ورتـه نـه وه.

## ٦ او پـه نفلـي لمونځونـو کـې؛

**نـو مسـافر هم لکـه د مقيـم پـه څېـر نفلـي** لمونځونه کولی شـي، لکـه د څاښـت لمونـځ، تهجـد او داسـې نـور نفلـي لمونځونه، پرته د ماسپښـين، ماښـام او ماخوسـتن له راتبه نفلو څخـه، ځکـه پـه هغـې کـې سـنت طريقـه دا ده چـې پرېښـودل شـي.

## ٧ نفل لمونـځ پـه سـپرلی کيږي لکه

طيـاره، موتـر، بيړی او داسـې نور د ترانسـپورټ وسـايط، او د فـرض لمانځـه لپـاره بايـد ښـکته شـي، مګـر دا چې له ښـکته کېدلو عاجز و.

# ٨ د مقیم پسې د مسافر لمونځ صحيح دی

او مسافر بـه هـم لکـه د خپـل امـام پـه څېـر لمونځ پـوره کوي، برابـره خبـره ده کـه ټـول لمونـځ يـې لانـدې کـړی و، يـا يـو رکعـت او يـا لـږ، آن کـه په وروسـتي تشـهد کې له سـلام اړولو مخکـې د امـام سـره يو ځای شـو لمونځ به پوره کـوي، او همدا د علمـاوو لـه دوو قولونـو څخـه صحيـح يـو دی.





## څلورم: د حج، عمرې يا سفر څخه د راستنېدو آداب

### ١

**په کار ده چې له سفر څخه په بېرته راستنېدو کې بېړه وکړي او له ضرورت پرته اوږد پاتې نشي؛**

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:

ژباړه: (سفر د عذاب يوه ټوټه ده، چې سړی له خوړلو، څښلو او خوب څخه منع کوي، نو کله چې ستاسو څخه يو کس خپلې اړتياوې پوره کړې، خپلې کورنۍ ته دې په بېړه لاړ شي).

### ٢

**نو کله يې چې خپل هېواد ته د راستنېدو اراده وکړه، نو په سپرلۍ د سپرېدو پر مهال دې د سفر دعا ووايي او دا الفاظ دې پرې ورزيات کړي**

(آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ). (مونږ په خير سره ستنېدونکي، له ګناهونو څخه توبه کوونکي، د الله خاص عبادت کوونکي، او د الله په نعمتونو شکر ويستونکي يو).

# ٣

**ورته مستحب دي چې له سفر څخه د راستنیدو پر مهال هغه څه ووايي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ثابت دي، چې كله به له فتحې، حج يا عمرې څخه راستنېده، نو په هر لوړه به يې د ختلو پر مهال درې ځلې الله اكبر ويل او بيا به يې ويل:**

(لا إلـه إلا اللَّه وحـده لا شـريك لـه، لـه الملـك ولـه الحمـد وهـو على كل شـيء قدير، آيبـون، تائبون، عابـدون، سـاجدون، لربنـا حامـدون، صـدق اللَّه وعـده، ونصـر عبـده، وهـزم الأحـزاب وحـده).
«لـه الله پرتـه بـل برحـق معبـود نشـته او هغـه يوازې دى هغه لره هيڅ شـريک نشـته، هغه لره پاچاهـي او ټولـي ثنـاوې دي او هغـه پـر هغه څه باندې قادر دى، مونږ په خير سـره سـتنيدونکي، لـه ګناهونـو څخـه توبـه کوونکـي، د الله خـاص عبادت کوونکي، الله تعالى ته سـجده کوونکي او د الله پـه نعمتونـو شـكر ويسـتونكي يـو، الله خپله وعـده پـوره كـړه او د خپـل بنده مرسـته يې وكړه او پـه تنهايـى سـره يـې احزابـو او ډلـو تـه ماتـې وركـــړه».

## ٤ ورته مستحب دي چې د خپل کلي په ليدلو سره ووايي:

**(آيبون، تائبون، عابدون، لربنا حامدون)**

او تر هغه پورې دې وايي چې خپل کلي ته ننوځي؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې کړي دي.

## ٥ که چېرته له ډېرې مودې وروسته راغلی و، نو له اړتيا پرته دې سم دلاسه خپلې کورنۍ (ښځې) ته د شپې لخوا نه ورځي مګر دا چې مخکې يې خبر ورکړی وي او د شپې مهال يې د ورتګ يې ورته ويلي وي؛

ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې کار څخه منع کړې ده، جابر بن عبدالله رضى الله عنهما فرمايلي

**ژباړه: (رسول الله صلى الله عليه وسلم د شپې لخوا خپلې کورنۍ ته له ورتلو څخه منع کړې ده)،**

په دې کې حکمت په بل روايت کې تشريح شوی چې فرمايي:

**(حتى تمتشط الشعثة، وتستحدَّ المغيَّبة)**(٤)

(تر دې چې خپل ګډوډ حالت سم کړي، او هغه مېرمن چې خاوند يې ډېره موده نه و، خپل عورت په پاکي يا بل څه سره پاک کړي)،

(٤) (الشعثة): هغه ښځه چې له ډيرې مودې يې ويښتان غوړ او کمنځ کړي نه وي. او (الاستحداد): د اوسپنيزې آلې کارول لکه: (پاکي). او: (المغيبة): هغه ښځه چې خاوند يې ترې لرې تللی وي. التحرير في شرح صحيح مسلم - الأصبهاني (ص٢٩٢).

او پـه بـل روايـت کـې دي

ژبـاړه: (رسـول الله صلـی الله عليـه وسـلم خپلـې کورنـۍ تـه (د بدګمانـۍ لـه مخـې) لـه ناڅاپـه ورتلـو منـع فرمايلـې ده چـې خيانـت يـې معلـوم کـړي يـا يـې د اشـتباهاتو پسـې ګرځـي چـې معلـوم يـې کـړي..).

## ٦ لـه سـفر څخـه د راتلوونکـي کـس لپـاره مسـتحب دي چـې تـر ټولـو وړانـدې جومـات تـه لومـړی ورشـي او دوه رکعتـه لمونـځ پکـې وکـړي،

ځکـه چـې پيغمبـر صلـی الله عليـه وسـلم کـړي دي.



HADIYAH هدية

## ٧

**د مسافر لپاره مستحب دي چې کله له سفر څخه راستون شي، نو د خپلې کورنۍ او ګاونډیانو له ماشومانو سره دې مهربانه اوسي، او د هرکلي پر مهال دې ورسره نیک چلند وکړي،**

له ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې کله پیغمبر صلی الله علیه وسلم مکې ته ورسید، نو د بنو عبدالمطلب ځوانانو یې هرکلی وکړ، نو یو یې د ځان سره مخکې او بل یې شاته سپور کړ. او عبد الله بن جعفر رضي الله عنه وایي:

**(کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له سفر څخه راوګرځید نو موږ به هرکلي ته ور وړل کېدلو، نو یو ځل زه او حسن؛ یا حسین هرکلي ته وروستل شو، نو زموږ څخه یې یو مخې او بل د ځان پسې شاته سپور کړ، تر دې چې مدینې ته ننوتلو).**

## ٨


**ډالۍ ورکول مستحب دي، ځکه چې په ډالۍ سره زړونه ښه کیږي او کینه پرې له منځه ځي،**

او قبلول او پرې بدله ورکول هم مستحب دي، او له کوم شرعي خنډ پرته یې بېرته ورکول مکروه دي؛ لدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي

**ژباړه: (یو بل ته سره ډالۍ ورکړئ چې خپلمنځي مینه مو سره پیدا شي).**

او ډالۍ د مسلمانانو تر منځه د مینې او محبت له اسبابو څخه یو سبب دی.

هدية
HADIYAH



## ٩ کله چې مسافر خپل هېواد ته راشي نو غاړه ورکول مستحب دي

د هغه حدیث له مخې چې د رسول الله صلى الله علیه وسلم له اصحابو څخه ثابت دی، لکه څرنګه چې أنس رضي الله عنه فرمایلي:

ژباړه: (کله به چې سره مخ شول نو لاسونه به يې سره ورکول او کله به چې له سفر څخه راستانه شول نو يو بل ته به يې سره غېږې ورکولې).

HADIYAH
HAJI & MU'TAMR'S GIFT

هدية
هدية الحاج والمعتمر

www.hadiyah.org.sa